مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۲/۱۹

# عجیبه خلک دي

## سرِی ورته حیران پاتي شي

د معــرفت څخـه چې لیری ، هرانســـان پاتي شي
داسي مخـلوق به تل په ژوند ، لــکه حیوان پاتي شي

ښکلي سپـــــیڅلي انســانان ، له مکــتبونو ، وځـي
زمونږ په برخــه ، تل جــاهله ، انســـانان پاتـــي شي

غدی چي راشي ،رانه یوسـی ، زړه ضمیر خاوندان
له مونږه ښکلي ښکلي ولاړ شي ، خودیوان پاتي شي

د فرشتو غوندی ځیري مو کړي ، د خـــاورو لاندی
ښـــکلي تالا شي ، راته ســوتي د ډیران پاتـــي شي

هغه کارونه کــــړي ،جـامه کي د مذهـــــب طالبان
چي مکاری کی په حیرت ، ورته شیــطان پاتي شي

سپینو جــامـــو کي خپل ظاهره ، مسـلمان جوړوی
«عجیبه خلــک دي سرِی ورته حـــیران پاتي شي»

دښــمن یي زړونو کي، د حورو وسوسي ګډی کړي
دي بی خبرو ته بیا دین ، او نه ایمـان پاتـــــي شي

په بـمو والوزوی ، زمــــونږه ګلالي مــاشـــومان
د بورو میندو ته د غم ځیري ، ګریوان پاتــــي شي

د تول بدن غړي توتي ، په هـــري خـوا وي برتي
له چا ټکری ، له چا نتکی ، له چا پیزوان پاتي شي

په جومـــــاتونو ، مکـــتبو او په عـامه ځـایو کي
داسي ځای نشــته ، چي تري خلک په امان پاتي شي

خدای د برباد کړي ، د خیرن ضمیر باطن خاوندان
چي نه یي بوتی د طالب ، نه پاکـــستان پاتـــي شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بشردوســـتان د نړۍ ،ټوله دي په دې متـــــــــفق
چې څمکي سر کې ، هر وګړی ښه انسان پاتي شي

څه حالت دی بشر دوســـتو ، تاسي يې وينئ که نه؟
څنــګه په اَ من دې حـــالت کې مکتـــبيان پاتي شي؟

چې د جـــاهل په لاس مـــو وژني ،معرفت پتنــګان
مونږ ته به څنګه دې وطن کې هوښــياران پاتي شي

که واکداران د دي لړۍ ،زيـاتي نور غـــم ونه کړي
د معرفت به دلـــــته څـــنــګه ، لارويان پاتي شـــي

راځئ چـــې وګرو ، راتلونــکو ته په لارو ګـــــلان
چې نوي نســـل ته وطـــــن مو ګلســـتان پاتي شي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ